PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهي لارښوونې

اى مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نيکيو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښايي. هغه تاسو غوره کړی يئ او په دين کې يې په تاسو کوم سختوالې او تنګي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهيم پر ملت ټینګ ودرېږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نوموړلي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ٧٦ - ٨٨)

نبوي ارشاد

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:
هر چا چې خپل ګاونډي ته تکليف ورسول هغه ماته تکليف ورسول، او چا چې ماته تکليف ورساو هغه الله ته تکليف ورساو، چا چې له خپل ګاونډي سره جنګ وکړ هغه له ماسره جنګ وکړ او چا چې له ماسره جنګ وکړ هغه له الله سره جنګ وکړ. (ترغيب او ترهيب)

شهادت دويم کال، ۸۹ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د مرغومی ۸ مه د۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۲۲ مه د۲۰۱۰ م د دسمبر ۲۹ مه

د انتخاباتي شکايتونو د څېړلو لپاره ځانګړې محکمه جوړه شوه

کابل، رسنۍ:
افغان چارواکو وويل ، مخکې تر دې چې نوې ولسي جرګه پرانستل شي، يوه نوې خاصه محکمه به جوړه کړي چې د معترضو کانديدانو پرشکايتونو غور وکړي.
د سنبلې د اووه ويشتمې نېټې د ولسي جرګې د انتخاباتو وروستی نتيجې د قوس په لسمه(دسمبر لومړۍ) اعلان شوې او د ولسمشر کرزي دفتر ويلي چې نوې ولسي جرګه به د جدي په دېرشمه (جنوري۲۰) پرانيزي.
خو په انتخاباتو کې د پراخو درغليو پرسر د نوې ولسي جرګې د پرانستلو مسله له شک سره مخامخ شوې ده.
لويې څارنوالی د انتخاباتو د کميسونونو چارواکي په درغليو کې په لاس لرلو تورن کړي او ويلي يې دي چې د انتخاباتو نتيجې په شهزاده سرای او دوبی کې ټاکل شوې دي.
لويې څارنوالی د انتخاباتو د باطلولو غوښتنه کړې او د درغليو قضيې يې سترې محکمې ته وړاندې کړي څو د هغو په باب فيصله وکړي.
د افغانستان د انتخاباتو خپلواک کميسون د لويې څارنوالی تورونه ردوي او وايي چې انتخابات يې په نسبي ډول شفاف ترسره کړي دي.
د ولسمشر کرزي حقوقي سلاکار نصرالله ستانکزي نن رويترز خبري اژانس ته وويل چې د يکشنبې په ورځ ناوخته کرزي د يوه فرمان په صادرولو سره د سترې محکمې په چوکاټ کې دننه د يوې

پاتی ٤ مخ

پاکستان بر تعهدات خود صادقانه عمل کند تا دامنهٔ نا امنی ها برچیده شود

کابل، رسانه ها:
به دنبال برگزاری اجلاس سه جانبه افغانستان، پاکستان و ترکیه حکومت افغانستان می گويد، در اين اجلاس صحبت های زيادی در خصوص آمدن صلح و ثبات در افغانستان و پاکستان و تقويت همکاری ها ميان اين دو کشور صورت گرفته است اما حکومت افغانستان ابراز آرزومندی می کند که پاکستان بر تعهدات خود صادقانه عمل کند تا دامنه نا امنی ها در اين دو کشور که به نفع هر دو طرف نيست برچيده شود.
وحيد عمر سخنگوی رياست جمهوری افغانستان که بعد از چاشت روز دوشنبه با خبرنگاران در کابل صحبت می کرد در مورد بحث های که در اين نشست سه جانبه صورت گرفته است توضيحات داد و هم چنان گفت که هفته آينده رييس و برخی از اعضای شورای عالی صلح افغانستان به هدف ديدار با مقامات پاکستانی به آن کشور سفر می کنند.

بقيه در صفحه ۴

مشرانو جرګې د انتخاباتي شکايتونو لپاره د ځانګړې محکمې هرکلی وکړ

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د مشرانو جرګې د شکايتونو د اوريدلو کميسيون د انتخاباتي شکايتونو د څېړنې لپاره له نوې جوړې شوې محکمې وغوښتل چې دغه شکايتونه په علني توګه وڅيړي.
دغه ځانګړې محکمه د افغانستان د سترې محکمې په وړانديز او د ولسمشرحامد کرزي په منظوری جوړه شوې.
خو د انتخاباتي شکايتونو د کميسون وياند احمدضيا رفعت د دې محکمې جوړېدا غير قانوني وبلله او وېې ويل چې په دې برخه کې د محکمو جوړول د اساسي قانون خلاف عمل دی او د

پاتی ٤ مخ

ميدوېديف افغانستان ته د هسپانيا د پوځي وسايلو د ترانزيت موافقه لاسليک کړه

کريملين، تاند:
کريملين د دوشنبې په ورځ وويل چې د روسيې ولسمشرديميتري ميدويديف هغه فدرالي لايحه توشيح کړه چې د روسيې له لارې افغانستان ته د هسپانيا د پوځي وسايلو او پرسونلو ترانزيت تصويبوي.
دا لايحه د دسمبر په لسمه د روسيې د دولتي دوما يا ولسي جرګې او د دسمبر په پنځلسمه د فدرالي شورا له لوري تصويب شوې وه.
دا قانون د روسيې او هسپانيا د حکومتونو ترمنځ هغې موافقې ته قانوني بڼه ورکوي چې د ۲۰۰۹ کال د مارچ په دريمه نېټه په مادريد کې لاسليک شوې وه.
دې موافقې د روسيې له لارې افغانستان ته د هسپانيا د جنګي الوتکو،پوځي وسايلو، پوځيانو او ملکي پرسونلو د ترانزيت لپاره قانوني اساس يا بنسټ کېښود.
هسپانيا په ۲۰۰۲ ع کال افغانستان ته عسکر ولېږل او اوس په افغانستان کې د هسپانوي پوځيانو شمېريونيم زرو ته رسېږي.
تراوسه پوري ۹۳ هسپانوي پوځيان يا پوليس وژل شوي .د هغوی په منځ کې يوازې نهه تنه د دولت د وسله والو مخالفانو په بريدونو کې وژل شوي نور ټول په يوه هوايي پېښه کې وژل شوي دي.

پاتی ٤ مخ

خلاصهء از رويدادهای سال ۲۰۱۰ در عراق، پاکستان و افغانستان

راديو آزادی:
امسال که به پايان آن رسيده ايم دو انکشاف بزرگ در عراق رخ داده است، کاهش عمده قوای حربی ايالات متحده امريکا و انتخابات ماه مارچ که تاخير ۹ ماهه را در تشکيل حکومت جديد اين کشور به همراه داشت.
با وجود سراسيمگی سياسی خشونت ها در اين کشور گسترش نيافت و اقتصاد آن همچنان به کندی به رشدش ادامه داد.
نيويارک تايمز می نويسد، پاکستان يک سال دشوار تر داشت. سيل تابستان احتمالاً تعدادی از مردم اين کشور را بيجا ساخت که در هيچ فاجعه طبيعی گذشته سابقه نداشت. خبر خوب اين است که جنګ حکومت عليه طالبان پاکستانی تا حدی پيشرفت داشت. حتی اگر در سطح خشونت ها کاهش به عمل نيامده، حد اقل بر مناطق که مواضع مستحکم شورشيان دانسته می شد کنترل حکومت گسترش يافت.
به نوشته نيويارک تايمزباوجود آن که حملات طياره های بدون پيلوت امريکا در مناطق قبايلی افزايش يافته است، متاسفانه در

پاتی ٤ مخ

د جدي شپږمه، د روسانو د بې غيرتي او د افغانانو د غيرت نه هېرېدونکی تاريخي باب

دويم مخ

اسلام د عمل دين دی، نه د ګفتار؟!

دريم مخ

وزير دفاع فرانسه:

سال ۲۰۱۱ برای افغانستان سالی سرنوشت‌ساز خواهد بود

خبر گزاری فارس:
وزير دفاع فرانسه در جريان سفر اخير خود به افغانستان، سال ۲۰۱۱ را سالي سرنوشت‌ساز براي افغانستان قلمداد کرد.
به گزارش فارس به نقل از روزنامه فرانسوي "فيگارو "، "آلن ژوپه "روز گذشته در جريان سفر به افغانستان در اظهاراتي در خصوص دو خبرنگار فرانسوي ربوده‌شده در اين کشور اعلام کرد: «من نمي‌خواهم اميد واهي بدهم يا جدول زماني براي آزادي اين دو خبرنگار ارائه کنم اما بايد بگويم که اوضاع و شرايط مربوط به آزادي "اروه گسکيه " و "استفان تاپونيه "به خوبي پيش مي‌رود.»
دو خبرنگار شبکه سه تلويزيون فرانسه و مترجم افغان آن‌ها، در روز ۳۰ دسامبر سال ۲۰۰۹، در منطقه‌اي در ولايت "کاپيسا " واقع در شمال کابل ربوده شدند.
منطقه کوهستاني کاپيسا از جمله مناطق خطرناک افغانستان بشمار مي‌رود و بخشي

بقيه در صفحه ۴

جوزف بلانز:

سال آينده مخالفان مسلح دولت افغانستان بيشتر زير فشار قرار خواهند گرفت

کابل رسانه ها:
در آستانهٔ فرا رسيدن سال ۲۰۱۱ ميلادی و آغاز روند انتقال مسووليت های امنيتی به نيروهای افغان، آيساف بر وارد کردن فشار بيشتر بر مخالفان مسلح دولت افغانستان در جريان اين سال تاکيد می ورزد.
جوزف بلانز سخنگوی نيرو های آيساف در افغانستان می گويد، با وجود راه اندازی عمليات های متعدد به هدف سرکوب کردن مخالفان مسلح، هنوز هم انتظار جنګ های شديد را در هفته ها و ماه های آينده دارند.
آقای بلانز که به روز دوشنبه در يک نشست خبری در کابل صحبت می کرد گفت، يکی از اهداف عمدهء اين تلاش ها فراهم کردن

بقيه در صفحه ۴

د م.م. پټې نقشې د افغانستان د حالاتو خرابېدا ښيي

تاند:
وال ستريت ژورنال ورځپاڼې راپور ورکړ چې د ملګرو ملتو محرمانه نقشې ښيي چې د افغانستان په يوشمېر سيمو کې سږکال امنيتي حالات خراب شوي دي.
په کابل کې د ملګرو ملتو د دفتر يوه چارواکي تاييد کړه چې د افغانستان په يوشمېر سيمو کې امنيتي وضعيت خراب شوی دی خو د نقشو په باب يې بې خبري څرګنده کړه.
وال سريت ژورنال وايي چې ملګروملتو د افغانستان د امنيتي وضعيت په باب دوې نقشې جوړې کړي . يوه يې د کال د لومړيو وختونو يعني د حمل مياشت ښيي چې جګړه پکې تېزېږي.
دوهمه نقشه له حملې وروسته د دوبي تر پايه پوری وخت ښيي چې د جګړې د اوج وخت وي.
په دې محرمانه نقشه کې په ځانګړي ډول د افغانستان په شمال او ختيځ کې د امنيتي وضعيت د خرابوالي ښودنه کېږي.
خو په افغانستان کې د ملګرو ملتو د دفتر د ارتباطاتو رييس کيريان دوير له فرانس پريس خبري اژانس سره په مرکه کې له دې سره سره چې د افغانستان په يوشمېر سيمو کې د امنيتي

پاتی ٤ مخ

د جدي شپږمه، د روسانو د بې غیرتي او د افغانانو د غیرت نه هېرېدونکی تاریخي باب

احمد شاه «وحدت» Ahmad Shah WAHDAT Mobile: 0700252598

عمیر خلیل

د ۱۳۵۸ هـ ش کال د جدي په شپږمه د روسي سرو لښکرو په بشپړ قوت پر افغانستان یرغل وکړ تر څو د افغانستان خاوره وسلو په زور ونیسي او مسلمان ولس له خپل استقلال، اسلامي

عقیدی، کلتور او افغاني عنعناتو څخه محروم کړي، هغوی غوښتل چي د افغانستان له اشغاله وروسته د هند سمندر ګرمو اوبه ته ورسیږي او په دې تو ګه د سیمې د نورو هېوادو د ایل کولو لپاره لاره پرانیزي. د افغانستان قهرمان ولس چي په رګونو رګونو کي یې د الهي دین مینه په څپو وه او د غلامی له ژوند نه یې کرکه درلوده، د یرغلګرو پوځونو په وړاندي خپلي سیني ډال کړی او فولادي دیوال په څیر مخې ته ودریدل. دا تاریخ هغه طلایي او نه هېرېدونکي باب دی چي خالي لاس مګر د ایمان په عقیده سنبال افغان قوم په بشپړ زړه ورتیا د روسیې یرغلګر پوځ په وړاندې د حیرانتیا ډک مقاومت وښود، ټوله نړۍ د افغانانو ددغې ستری قهرمانی او زورورتیا په لیدو هک پک او ګوته په غاښ شوه. د نړۍ مطبوعاتو د افغانانو دا کلک مقاومت وستایه او دهغوی د شجاعت کیسې خپری کړی. هغه روس چې له امریکا او اروپا نه یې خوب تښتولی و او د ویرې خفسه یې وربانديِ کېښولی وه د افغانانو له لاسه سپکه وړی شوه او ټول رعب دعب یې لاړ.

د ایمان او اوسپنې په دې ټکر کې اوسپنه د ایماني قوت او عزم په وړاندې موم ثابت شو.

الله تعالی د نړۍ فرعوني او طاغوتي ځواکونو ته دا وښودله چې د حق او باطل په جګړه کې حق برلاسی او باطل سرنګون کیږي. روس د خپل کمونستي بلاک له ټول پوځي او مادي ځواک درلودلو باوجود د کلک ایمان او عقیدې په وړاندې د افغانستان په لویشت لویشت ځمکه کې له رسوا ماتې سره مخامخ شو، ټول افغانستان دهغوی لپاره سور تنور وګرځید، اعصاب یې شل او عقل یې کار پرېښود، ټول شیطاني پلانونه او ستراتیژي یې ناکام او له دې پرته بله لاره یې پیدا نکړه چې له افغانستانه خپلې پښې سپکې او د هلاکت له خولې ووځي.

په دې کې هیڅ شک او شبهه نشي کیدلی چې افغانانو د خپل تاریخي او نه هېرېدونکي کلک مقاومت او بې دریغه قرباني له کبله د روسیې سره امپراطوری دړی وړی او له یو درجن څخه زیات اشغال شوي هېوادونه دهغه له منګولو څخه آزاد شول.

پکار خو دا وه چې امریکا، اروپا، آسیا او د افغانستان ګاونډیو هېوادو د افغانانو ددغې سترې قربانی او قهرماني قدر کړې وای او د وران ویجاړ افغانستان د بیارغونې او اعمار لپاره صادقانه او پراخې مرستې کړې وای خو متأسفانه چې د افغانانو دغه تاریخي برې دهغوی د سترګو اغزي شو، دېته چمتو نه شول چې د افغانانو اتلولي په پراخه تنده وزغمي د تحسین خراج ورته وړاندې کړي، هغه و چې د افغانانو په خلاف هر چا د خپل بدنیتی آسونه وځغلول، ډول ډول توطیې او پلانونه یې پکار واچول، دهغوی ترمنځ د نفاق او بې اتفاقی د تخم کرلو لپاره یې سرمایه ګذاري وکړه. هغو افغانانو چې په حقیقت کې دهغوی دفاع کړې وه او د خپلو ککریو په قربانیو د روسي سره پوځونو له خونړۍ یرغل نه محفوظ ساتلي وو پخپلو منځونو کې وجنګول، د افغانستان د بې ثباته کولو لپاره یې یوه شیبه هم ضایع نه کړه، اوس افغانستان د نړۍ د ۴۸ هېوادو د پوځونو اډه ګرځیدلی، او هر لوری بې ګناه افغانان وژل کیږي.

د تیرو حقایقو په نظر کې نیولو سره موږ افغانان باید په دې حقیقت پوه شوو چې زموږ دښمنان او بدغوښتونکي اوس هم غلي دي، هغوی نه غواړي چې افغان ولس خپلواک او آرام ژوند ولري، هغوی په دې لټه کې دي چې د افغانستان خاوره خپله، او اوسیدونکی یې حلقه به ګوش غلامان کړي. خو الحمدلله تراوسه پخپلو دغو شومو اهدافو کې لا نه دي بریالی شوي.

راځئ دهغوی ددغو شومو اهدافو او غرضونو د شنډولو لپاره یو موټي او یو آواز شو، یو دریځ او یو شعار خپل کړو او په دې تو ګه ګردی نړۍ ته دا پیغام ور کړو چې افغانان د خپلو اسلافو په څېر اوس هم اتلان او پر خپل دین او خپلواکی مینان دي، هېچاته اجازه نه ور کوي چې په کړو سترګو ورته و ګوري، که موږ خپل ایماني او افغاني مسؤولیت په صحیح ډول ترسره کړو نو له څه شک پرته به د افغانستان ټول دښمنان د روسانو په څېر رسوا ماته وخوري او په افغانستان کې له لاسوهنې څخه به د روسانو په څېر نصوحه توبه وباسي.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د جدي شپږمه، د روسانو د زوال پیلامه

د جدي شپږمه د افغانستان په تاریخ کې هغه توره ورځ ده چې د قیامت تر ورځې به ددې تریخوالي د افغانستان راتلونکي نسل هېر نکړې شي، په دې ورځ د نن نه ۳۱ کاله وړاندې د روسیې سره پوځ د افغانستان پر خاوره په خونړۍ یرغل سره د افغانانو خپلواکي تر پښو لاندې کړ، افغانان چې د تاریخ په اوږدو کې یوه ورځ هم د چا غلامي ته غاړه نه ده ایښې او هر یرغل ته رسوا او له ذلت نه ډکه ماته ور کړې ده د خپل دین او استقلال د ساتلو لپاره د جهاد ډګر ته ووتل، که څه هم هغه مهال روسیه د نړۍ لوی ځواک ګڼل کېده او هېچا دهغې د مقابلې تصور نه شوه کولی مګر افغانانو د خپل اسلامي او افغاني غیرت له مخې دغه ګران او مشکل کار ته تن کېښود، پخپل لوی الله بروسه وکړ او د ایمان په غښتلې وسله د یرغلګر پوځ د مقابلې لپاره د جهاد سنګرونو ته ودانګل، د هغوی د ټانکونو، بمونو، توپونو او راکټونو په وړاندې خپل سینې ډال او په هر محاذ کې دهغوی په وړاندې کلک مقاومت وکړ، هغه یرغلګر پوځ چې د افغانانو د خاورې او عقیدې د فتح کولو په خاطر په پوره غرور راغلې و له داسې حیرانوونکي مقاومت سره مخامخ شو چې د خولې خوند یې پیکه او اعصاب یې له کاره ولوید. که څه هم د عقیدې او آزادي په دې جهاد کې افغانانو پنځلس لکه ککرۍ قربان کړې، په لکونو وګړي معلول او اووه ملیونه له خپل هېواده په هجرت کولو اړ شول، ډېر زیات ځاني او مالي تاوان یې ولید، هېواد یې په کنډوالو بدل شو خو یرغلګرو ځواکونو ته هم داسې تاریخي او نه هېرېدونکي ماته ور کړه چې دهغوی د ټول عمر غرور او فرعونیت یې له خاورې سره خاورې کړه. د تاریخ په پاڼو کې پر افغانستان د روسي سره پوځ مغرورانه یرغل او د هغوی له ذلت نه ډکه ماته دواړه په غټو تورو لیکل شوي چې د افغانانو په قهرماني او د روسانو په فرعونیت او رسوا ماته ګواهي ور کوي. که یو لوری د جدي شپږمه د افغانانو په تاریخ کې توره ورځ ده خو بل لوری د افغانانو په کلک مقاومت او اتلولی هم ګواهي ور کوي. افغانانو لپاره به دا خبره هله ډېر غموونکی او ځورونکی وه چې د یرغلګرو ځواکونو په وړاندې جهاد او مقاومت یې له ناکامي سره مخامخ او د غلامي په زنځیرونو کې تړل شوې وای.

پدې ورځ چې افغانان څومره د روسي سره پوځ یرغل غندي هومره پخپل بریالي مقاومت هم ویاړي چې دهغوی د غرور پوزه یې په خاوره وموږله او ګیډرانو په څېر یې وځغلول.

البته د افغانستان مسلمان ولس پدې خبره ډېر ځوریږي چې د جهاد مشرانو د پنځلسو لکو شهیدانو د قربانیو ثمره ولې ترلاسه نکړه؟! دهغوی د ارمانونو د تحقق لپاره یې ولې عملي ګامونه اوچت نه کړل؟! جهادي او سیاسي قیادتونو ولې خپل اسلامي، ایماني او افغاني مسؤولیت په صحیح معنی ترسره نه کړ؟! دهغوی له ارمانونو او وینې سره ولې دومره غټه جفا وکړه؟ د دومره بې حسابه قربانیو ور کولو باوجود دیته ولې موقع او فرصت برابر کړ چې افغانستان یو ځل بیا د پردیو پوځونو په اډه بدل شي او افغانان یو ځل بیا د بم او باروتو په سرو لمبو کې وریت شي؟!

اوس باید زموږ ټول جهادي مشران، علماء، سیاست پوهان، ادیبان، شاعران، لیکوالان، مبصرین او سپین ږیرې په دې خبره غور وکړي او له همدې اوس نه کلک تصمیم ونیسي چې لدې وروسته له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به د بې حسي او غفلت داسې خلا پرې نږدي چې له کبله یې افغانستان یو ځل بیا د نورو خود غرضو هېوادو د پوځونو ډګر وګرځي او موږ افغانان تر اوږدې مودې پورې له جنګ سره لاس او ګریوان پاتې شوو، الله دې نه کړي.

اسلام د عمل دين دی، نه د گفتار؟!

محمد خليل

کله چې په ۱۴ هجری کال د منحل نومی ځای کې مسلمانانو او رومي عسکر د يو بل په خلاف سنگرونه ونيول، نو د جنگ له پيلدو نه مخکې د عيسويانو په غوښتنه حضرت عبيده رضی الله عنه معاذ بن جبل رضی الله عنه يې د سولې د شرايطو د فيصلې لپاره واستاوه کله چې هغه (رض) د روميانو ښکلي دربار ته ورسيد نو په هغه کې غوړول شوې قالين يې واړاوه او پر ځمکه کښيناست، بيايې مخ واړاوه او ورته يې وويل: کوم فرش چې د غريبانو د وينې په زيښلو دلته هوار شوی دی زه پر هغه نه شم کښيناستلې.

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه دا عمل او کړنه موږ له پاره لوی درس دی چې ترينه بايد عبرت واخلو او په دې حقيقت ځان پوه کړو چې د اصحابو کرامو د باطل او کفر په خلاف د جهاد اصلي مقصد او هدف څه ؤ؟ هغوی د کوم ستر مقصد لپاره خپل سرونه او مالونه نذرانه کول؟ که موږ لږ غوندې هم د اصحاب کرامو د جهاد موخې وڅېړو نو لدې پرته بل څه نه شو ويلی چې دهغوی دا قرباني او جهاد يواځې د الله تعالى ارشاد: ((وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّه)) د تحقق لپاره و، تر څو د ځمکې په سر د بغاوت، تکبر، ظلم او وحشت تورې تياری ختمې او پر ځای د الله تعالى د عدل او انصاف قانون نافذ شي، ټول اطاعت الله لپاره ځانگړی شي، او له الله پرته د بل چا د بندگي او غلامي زنځيرونه وشلول شي. همدا وجه وه چې الله تعالى د جهاد فی سبيل الله په هر ډگر کې ورته بري او فتوحات ورپه برخه کول. دهغوی د جهاد مقصد نه مال ترلاسه کول و او نه هم جاه او جلال، بلکې دهغوی ستر مقصد دا و چې د ځمکې په سر د انسان خدايي ختم او د يو الله خدايي قائم شي.

کوم جنگ چې له دغه روح نه خالي وي هغه ته جهاد نه شي ويل کيدلې او نه هم کوم اخروي اجر او ثواب لري.

لوی الله جل جلاله له خپل بنده نه سوچه بنده گي او اخلاص غواړي، پخپل بندگي کې د بل څه ورگډول او يا ورسره بل څوک شريکول قطعاً نه مني، ځکه خو پخپل کتاب قرآن کريم کې خپلو بنده گانو ته په سپينو ټکو کې فرمايي: "تاسې د الله بنده گي وکړئ او په دې کې هيڅ شی ورسره مه شريکوئ"

د الله تعالى په عبادتونو کې جهاد تر ټولو غوره عبادت دی، که څوک ټول عمر روژه ونيسي او شپې ورځې عبادتونه وکړي بيا هم د جهاد ځای نه شي نيولي، خو دا هله چې جهاد واقعاً د الله ددين د سرلوړي، د حق د قيام او شيطاني نظام د محوې لپاره وي. په قرآن کريم کې چې چېرته هم د قتال او جهاد يادونه شوې هلته فی سبيل الله جهاد يا قتال هله تحقق موندلې شي چې ددغې لارې ټول سرښندونکي په عملي ډول ټولنې ته ثبوت وړاندې کړي او وگړي په دې خبره باوري کړي چې هغوی واقعاً د اسلامي نظام د قيام لپاره هلې ځلې کوي او انسانيت ته د اسلام د سپېڅلی دين حقيقي ثمر ورکوي. د جهاد او قتال في سبيل الله د علمبردارانو مواصفات دادي چې هغوی ټولو د الله پر دين مئگولې لگولې وي او پخپلو کې په ډلو ټپلو نه وي ويشل شوي، د الله ډېر يادوونکي او پرهيز گاران وي. له حرامو څخه ځان ژغورونکي، له يو بل سره مينه کوونکي او پخپل دين مضبوط او ثابت قدمه وي.

لوی الله دداسې مجاهدينو د نصرت وعده کړې او فرمايلی دي چې دداسې اشخاصو نصرت او مرسته پر ما لازمه ده. موږ افغانانو هم د جهاد بيرغ پورته کړې و او همدا شعار مو ورکاو چې د الله ددين د سرلوړې او د يو سوچه اسلامي حکومت د قيام لپاره جهاد کوو، که څه هم لکونو افغانانو په دې لاره کې خپلې ککرۍ قربان کړې او د خپلو نه هېرېدونکو سرښندنو په برکت شوروي اتحاد غوندې ظالم زبرځواک ته ماته ورکړه خو اسلامي نظام او اسلامي خلافت ځکه تر ستر گو نه شو چې زموږ ډېرو ليډرانو او دهغوی خود غرضو دوستانو د زړه نه د الله د دين سرلوړي او اسلامي حکومت نه غوښت، هغوی ددې خبرې ثبوت له هغې ورځې نه ورکړې و چې د الله تعالى له دې سپېڅلي غوڅ حکم: ((وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللّهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ)) څخه سرغړونه وکړه، د يو بل د پرځولو او ماتولو لپاره يې ملاگانې تړلې وې ضد او نقيض دريځونه يې خپل کړي وو، د افغانستان ساده او مجبور پرگنې يې په ټوټو ټوټو ويشلی وې او د خپل منځي جگړو په داسې اور کې يې وريت کړل چې په تاريخ کې ځارې نه ليدل کيږي.

له هغه دمه نيولې تر دې دمه پورې دا زړه بو گنوونکې پيښه روانه ده، د اقتدار او دولت لالچيان لگيا دي هېواد په دواړو لاسو لوټي، د ځوريدلی ولس په سرنوشت لوبې کوي، له خپل دين او خاورې سره نه ښنوونکې او نه هېرېدونکی خيانت کوي. د کروړونو ډالرو خاوندان دي، په هېواد کې دننه او باندې لس لس، شل شل بلند منزلونه او مجلل کورونه لري، لوی لوی تجارتونه او د لکونو ډالرو آمدني لري خو بيا هم سترگې يې دومره وړې دي چې د مړيدو نوم نه اخلي، د خپل لالچ او حرص په وړاندې خپل ايمان او عقيده يې پښو لاندې کړې، لگيا دي د خپلې خاورې، عقيدې او ملت سودا کوي، ذلت او بې غيرتي په ډېر بې حيايی سره زغمي مگر بيا هم د اسلام د سپېڅلي دين له غلط استعمال او استفادی څخه لاس نه اخلي، په داسې حال کې چې دوی نور ددې حق نه لري چې د اسلام په نوم سياست او تحرکات په کار واچوي، دوی په ولس کې خپل باور او محبوبيت له لاسه ور کړې دی ځکه خو اقتدار ته د رسېدو لپاره له ټولو ناروا لارو او سازشونو څخه کار اخلي، ولس له دوی نه کرکه لري او دوی له ولس نه، دا جرئت نه شي کولې چې آزاد او له درغليو نه پاکو ټاکنو، او د ولس د مستقيمو آراو له لارې اقتدار ته ورسيږي، همدا لامل دی چې له خپل ملت سره د پيشو او موږک لوبه کوي او په دې ترتيب خپل شوم مقاصد ترلاسه کوي.

له اسلام، ولس او هېواد سره مينه لرونکو مشرانو او گوندونو اعمال، کړنې او کرکترونه هرگز داسې نه شي کيدلې چې، قومي، ژبني، سمتي او نور تعصبونه وپاروي، يو موټي ولس په څو ډلو ټپلو وويشي د يو بل د وژلو لپاره متی راونغاړی او ضد او نقيض دريځونه او شعارونه خپل کړي. د اسلام په نوم سياست کوونکې مشران دې ځواب ورکړي چې تر نه پورې دوی څومره کارونه ترسره کړي دي آيا د الله کلام قرآن کريم او نبوي سنت ددې اجازه چېرته ورکړی ده؟! د اسلام په سپېڅلی دين کې دا چېرته راغلي دي چې مسلمانان دې پخپلو کې په ډلو ټپلو وويشل شي؟! دا چېرته راغلي دي چې د مسلمانانو په منځ کې دې د قوم، ژبې، رنگ او سمت شيطاني تعصبونو اوربل کړی شي؟! دا چېرته راغلي دي چې بيت المال دې چور او تالان کړی شي، د غريبانو او کمزورو وگړو استحصال دی وشي، ځانو لپاره دې د مليارډو ډالرو کورونه او بلند منزلونه جوړ شي خو غريب دې د اوسېدو لپاره د خټو او لوټو کورونه لري؟! خپل ځان دې د قانون له گرفت نه ماورا وگڼل شي مگر بېچاره ولس دې په ناحقه په زندانونه کې واچول شي؟ ځانو لپاره دې هر څه روا وي مگر غريبو او ناچارو وگړو لپاره دې حلال کارونه هم حرام وگرځول شي؟!

الله تعالى د اسلام سپېڅلي دين د بويولو او بيانولو لپاره نه بلکې پر هغه د عمل لپاره راليږلې دی، تر څو د عمل له لارې په انساني ټولنه کې پياده کړی شي.

لوی الله خپل رسول محمد صلی الله عليه وسلم دحق له دين سره په دې خاطر مبعوث کړی و چې د عمل په ډگر کې پر نورو ټولو باطلو اديانو غالب او برلاسی کړي.

د اسلام د سپېڅلي دين هغه ټيکه داران چې تر نته د اسلام په نوم سياست کوي او خپلو شومو اهدافو ته د رسېدو لپاره د اسلام له نوم نه غلطه گټه اوچتوي لږ غوندې خپل سر دې په گريوان ښکته کړي چې هغوی دومره مال، دولت، جايدادونه، تجارتونه او د ژوند نور ټول سهوليات دچا په پيسو ترلاسه کړي دي؟ آيا دا هر څه د روا کسبونو له لارې ترلاسه کړي او که بيت المال يې په گېډو کې اچولی دی؟ آيا دا د غريبو، مسکينو، کونډو رنډو، يتيمانو، شهيدانو او معيوبينو وينی نه دي؟!

د الله تعالى له ذات، دهغه له دين او آخري پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم سره د مينه لرونکو اشخاصو کردار بايد داسې وي لکه چې د مضمون په پيل کې د معاذ بن جبل رضی الله عنه يادونه وشوه چې هغه کله د روميانو دربار ته ورسيد نو په هغه کې غوړول شوی قيمتي قالين يې واړاوه او پر ځمکه کښيناست، بيايې مخ واړاوه او هغوی ته يې وويل: کوم فرش چې د غريبانو د وينې په زيښلو دلته هوار شوی دی زه پر هغه نه شم کښيناستلې.

د اسلام سپېڅلي دين واقعاً له خپلو منونکو څخه همدا قرباني غواړي او کوم خلک چې د زړه له تل نه دا مني هغوی کله هم داسې اعمال نه ترسره کوي چې د اسلام ددين، خاورې او د اسلامي امت د کمزورې کېدو باعث وگرځي.

که چېرته د افغانستان مشران او چارواکي ټول د زړه له تل نه غواړي چې افغانستان يو سرلوړی فلاحي اسلامي هېواد جوړ شي او ولس د اسلام د سپېڅلی دين له خوږو ميوو څخه گټه پورته کړي نو له دې پرته بله لاره پرمخ نه لري چې د معاذ بن جبل رضی الله عنه غوندې جذبه او ولوله په سينو کې پيدا کړي او عملاً د اسلامي حکومت بنسټونه کېږدي.

عبدالله صافي

د الله په لاره کې د انفاق اهميت

د الله په لاره کې نفقه کول ددين له مهمو ضرورتونو څخه شميرل کيږي. لدې پرته ددين تصور په مشکله کيږي. له کوم مسلمان سره چې مال او دولت وي هغه ته پکار دي چې لومړی پخپل ځان، اولادو، خپلوانو او دوستانو خرچ کړي، د اسلام سپېڅلی دين د مال او دولت خاوند ته حکم کوي چې پر هر محتاج انسان نفقه وکړي، که څوک خوراک څښاک ته ضرورت لري هغه ته دې د خوراک څښاک څيزونه برابر کړي او که څوک لباس ته ضرورت لري هغه ته دې کالي او څپلی واخلي، که څوک نور اقتصادي مشکلات لري دهغه د لرې کولو لپاره دې گامونه اوچت کړي، برابره خبره ده چې دا خلک دده خپلوان وي يا پردي، پيژند گلو يې ورسره لري يا نه، کليوال يې وی يا د بل ځای وي، مسلمان وي يا کافر، دڅه امتياز او فرق پرته دې پر هغوی نفقه وکړي.

هغه خلک نيکمرغه دي چې خپل مال د الله په لاره کې لگوي او له دې لارې داړو خلکو پريشاني او مشکلات لرې کوي. کوم خلک چې د الله په لاره کې نفقه کوي نو الله تعالى دهغه بدله په هغه ورځ ورته څو برابره زيات ورکوي چې لاس يې تش وي او د الله تعالى مهرباني ته سخت محتاج وي.

الله فرمايي: ژباړه: "څوک دی چې الله ته ښه پور ورکړي، هغه جل جلاله دهغه دا پور ورته څو برابره ورزياتوي. "(البقره: ۲۴۵)

د الله په لاره کې نفقه کول د الله رحمت ته بلنه ورکول دي، له اړو او محتاجو وگړو سره مرسته کول ددې باعث گرځي چې د الله تعالى د رحم حقدار وگرځي، ځکه خو په حديث کې راغلی دي چې:

الله تعالى پر بل چا رحم کوونکو باندې رحم کوي. تاسې د ځمکې پر خلکو رحم وکړئ، د اسمانونو مالک به پر تاسو رحم وکړي.

کله چې يو مسلمان خپل مال او دولت پر کوم ضرورت مند کس خرچوي نو دا په دې خبره دلالت کوي چې هغه ته د الله تعالى د احسانونو او پيرزونو احساس دی او دهغه شکريه ادا کول غواړي د مؤمن او کافر ترمنځ همدا فرق دی چې مؤمن د الله شکر ادا کوي او کافر دهغه د نعمتو کفران کوي.

د بلد په سوره کې الله تعالى پر خپلو بند گانو د خپلو پيرزونو له شمېرلو وروسته فرمايي: ژباړه: "لوړی ژورې يې سر نه کړی، اوته څه پوهيږې چې د لوړو ژورو سر کول څه دي؟ د غاړې ازادول، يا د لوږی په وخت کې خوراک ورکول، خپلوان يتيم ته يا په خاورو کې ککړو ته" (البلد: ۱۱- ۱۶)

د الله په لاره کې نفقه کول له الله نه د ويريدو دليل دی الله جل جلاله نفقه کول د آخرت د عذاب نه د بچ کېدو ذريعه ښودلی ده. نو د چا په زړه کې چې د آخرت د ورځې ويره وي هغه مخامخا د خپل مال په خرچولو سره د آخرت له ويروونکی عذاب څخه د خلاصېدو کوښښ کوي، الله فرمايي چې: "پر يتيمانو او مسکينانو هغه خلک نفقه نه کوي چې له الله او آخرت څخه غافل وي." (سوره الماعون)

د کومو خلکو په زړونو کې چې د الله ويره ځای پر ځای شوې وي او د آخرت له عذاب نه ويريږي دهغه زړه کله هم نه شي سختيدلې، بلکې هغه هر وخت د الله په لاره کې نفقه کوي، لکه چې الله دداسې خلکو په باره کې فرمايي:

ژباړه: "د الله په مينه کې مسکين، يتيم او بندي ته خوراک ورکوي، او وايي چې موږ يې يواځې د الله په مخ ورکوو، له تاسو، نه بدل غواړو او نه شکريه، بېشکه چې موږ د خپل رب له هغې ورځې ډېر داريږو چې خورا تر يو مخی او له کړاوونو څخه ډکه وي. "(سوره الدهر: ۸- ۱۰)

تر څو پورې چې يو مالدار انسان خپل مال د الله په لاره کې خرچ نه کړي او ددې خبرې عملي ثبوت وړاندې نه کړي چې د الله رضا ته له خپل مال نه زيات اهميت ورکوي نو هغه له الله سره د مينې په وړاندې کولو کې ناکام دی لکه چې الله تعالى فرمايي: ژباړه: "تاسی تر هغه نيکی ته نشی رسيدلې تر څو چې خپل هغه مال نفقه نکړئ چې تاسې يې خوښوئ" (ال عمران)

لدې آيت شريف نه څرگند شو چې څوک د الله د رضا د ترلاسه کولو په خاطر خپل مال دولت خرچوي هغه عملاً ددې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې پر هغه مال نه، بلکې الله او دهغه دين گران دی. کوم خلک چې پر الله ايمان لري او د اسلام سپېڅلی دين يې د زړه له تل نه منلی دی هغه ددغه سپېڅلی دين د خپريدو لپاره هم د خپل مال له لگولو څخه ډډه نه کوي، د دنيا ټول کارونه مادي وسايلو ته ضرورت لري، د الله ددين د خپرولو لپاره هم د مال د لگولو کلک ضرورت دی، پر الله جل جلاله له ايمان نه وروسته دهغه د دين د خپرولو لپاره د جهاد حکم ورکول شوې دی، دا جهاد په مال او ځان دواړو سره کيږي، که چېرته چا په دې جهاد کې له سستي او غفلت نه کار واخست نو په دنيا او آخرت دواړو کې له ناکامي سره مخامخ کيږي.

په دې اړه محمد صلی الله عليه وسلم تر دې پورې فرمايلی دي چې کوم مسلمان نه پخپله ددين د خپرولو لپاره جهاد وکړي او نه بل مجاهد ته مال او اسباب برابر کړي او نه هم دهغه د کور خلکو پالنه وکړي نو په دنيا کې هم پر هغه عذاب راتلی شي.

په اوسني عصر کې چې د اسلام مخالفينو د مسلمانانو د گمراه او بې لارې کولو لپاره څومره وسايل په کار اچولي دي او بشپړ کوښښ کوي چې مسلمانان له خپلې لارې نه واړوي که کوم مسلمان خپل مال او دولت د اسلام د خپرېدو لپاره خرچ کړي نو دا د الله په نزد ډېر اجر او ثواب لري. ددې برعکس هغه خلک چې خپل مالونه د الله په لاره کې نه مصرفوي نو دده دغه مال د قيامت په ورځ هغه لپاره عذاب جوړيږي او هيڅ گټه ورته نه ورکوي. لکه چې د التوبې په سوره کې الله تعالى فرمايي:

ژباړه: "ای محمده! هغو خلکو ته چې سره او سپين زر راټولوي او د الله په ليار کې يې نه مصرفوي دردناک عذاب اعلان کړه، په هغه ورځ چې په مالونو په يې د دوزخ په اور ښه گرم او بيا به پرې دهغوی تندي، اړخونه او شاگانی داغول کيږي، او ورته به ويل کيږي چې دا همغه مال دی چې تاسې د خپلو ځانو لپاره راټول کړي وو. نو اوس دهغه څه خوند واخلئ چې تاسو به راټولول. "(التوبة: ۳۴ - ۳۵)

مسلمانانو ته پکار دي چې خپل مال او دولت په ناروا او شيطاني لارو کې د لگولو پر ځای د الله جل جلاله په لاره کې ولگوي، اړو او محتاجو وگړو د اړتياو د پوره کولو او د اسلام د دين د دعوت او بلنی په لاره کې مصرف کړي. د الله تعالى له منلو او پر قرآن د ايمان له راوړلو وروسته لومړی غوښتنه د لمونځ د ادا کولو ده، بيا لدې نه وروسته دوهمه غوښتنه د الله په لاره کې د مالونو د نفقه کولو ده.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خښتن حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر عبدالخلیل (محمد خلیل)
دارتکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ایمیل
shahadatnews_kabul@yahoo.com
دیزاین خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د انتخاباتي شکایتونو د څېړلو لپاره ...

ځانګړې محکمې د جوړېدو امر وکړ څو د معترضو کاندیدانو پر شکایتونو غور وکړي.

ده وویل چې اساساً د انتخاباتي ستونزو د څېړلو لپاره د خاصې محکمې د جوړولو په باب د ولسمشرفرمان د قانون پراساس د سترې محکمې په صلاحیت کې شامله ده.

د ښاغلي ستانکزي په وینا په نوې محکمه کې به پنځه قاضیان شامل وي او دوی به انتخاباتي شکایتونه له قانوني پلوه وڅېړي.

ده همداراز وویل چې لویه څارنوالي به په انتخاباتو کې جنایي اړخ ، لکه درغلي او تهدید تشخیص کړي .خو محکمه د دې لپاره جوړېږي چې شکایتونه ژر وڅېړل شي څو ولسمشر کرزی نوې ولسي جرګه د جدي په دېرشمه پرانیزي.

پاکستان بر تعهدات خود صادقانه ...

آقای وحید عمر افزود:

"ما امیدوار هستیم تا مقامات سطح پایینتر هر دو مملکت با هم ببینند تا برنامه های و اقدامات عملی را تطبیق کنند که واقعاً نمایاذگر همکاری مشترک و صادقانه پاکستان در عرصه مبارزه با تروریزم در منطقه باشد."

پنجمین دور نشست سه جانبه افغانستان، پاکستان و ترکیه به میزبانی ترکیه به تازه گی بعد از راه اندازی اجلاس سازمان همکاری های اقتصادی منطقوی یا ایکو در شهر استانبول ترکیه برگزار شد. در گذشته هم چهار نشست مشابه را ترکیه به اشتراک روسای جمهوری افغانستان و پاکستان میزبانی کرده است اما به گفته آگاهان، پاکستان تا کنون به آنچه تعهد سپرده صادق نبوده است.

اما آقای عمر گفت که حکومت فعلی پاکستان این نقطه را حالا درک کرده و به این نتیجه رسیده است که در راستای مبارزه با تروریزم گام های عملی باید برداشته شود.

وی به ادامه چنین گفت:

"امیدوار هستیم پاکستان به صفت این که هر روز مردمان معصوم و بی گناه آن قربانی می شوند مثل مردم افغانستان، سیاست مداران و نهاد ها داخلی دولت پاکستان صادقانه به آنچه تعهد می سپارند عمل کنند، و ما آنچه تعهد سپردیم به حکومت پاکستان که از خاک افغانستان علیه پاکستان تجاوز صورت نخواهد گرفت معهد می باشیم."

شورای عالی صلح افغانستان که نزدیک به ۷۰ عضو دارد، اخیراً به هدف پیشبرد تلاش های صلح حکومت افغانستان ایجاد گردید. رییس و برخی اعضای این شورا تا کنون به هدف دیدار با بزرگان و متنفذین قومی و جلب همکاری های آنان به شماری از ولایات سفر های داشته و این اولین بار است که اعضای شورای عالی صلح می خواهند به بیرون از این کشور به پاکستان سفر کنند.

آگاهان به این باور اند که پاکستان نقش اساسی در آوردن صلح و ثبات در افغانستان دارد و این نقش نباید نادیده گرفته شود.

مشرانو جرګې د انتخاباتي شکایتونو...

انتخاباتو اعلان شوي پایلې هیڅوک نه شي بدلولی.

رفعت تینګار وکړ چې "د قانون پراساس د انتخاباتي شکایتونو د کمیسون پرېکړه وروستی ده او بل هیڅ اورګان د دې پرېکړې دپاسه بله پرېکړه نه شي کولی."

باختر دولتي خبري اژانس د راپور له مخې د دې ځانګړې محکمې ریاست د کابل د استیناف محکمې رئیس صدیق الله حقیق پر غاړه لري.

تاکل شوې دغه محکمه د ولسي جرګې د تیرو انتخاباتو په بهیر کې د کاندیدانو هغه شکایتونه وڅېړي چې لوېې څارنوالی سترې محکمې ته سپارلي دي.

مشرانو جرګې د اختصاصي محکمې له جوړېدو څخه د هر کلي په ترڅ کې ویلي ، هره فیصله مشرانو جرګې ته او تېره بیا د مشرانو جرګې د شکایتونو د اوریدو د کمیسون د لپاره د منلو وړ ده، څکه هغه یوه مستقله قوه ده او اساسي قانون هغوی ته اختیار ورکړی دی.

مېدوېدیف افغانستان ته د هسپانیا ...

د ۲۰۰۳ کال د مې په ۲۶ نېټه د هسپانیا دوه شپېته عسکراو د یوې اوکراینی الوتکې دریالس عمله هغه مهال ووژل شول چې هسپانیایي ځواکونه د روسیې ساخت په یوه یاک ۴۲ ډوله الوتکه کې له افغانستان څخه هسپانیا ته بېرته ستنبدل .

دا اوکراینی الوتکه د ترکیې د شمال ختیځ په غرونو کې ولوېده .له دې پېښې وروسته د سږ کال د مې په میاشت کې درې هسپانیایي پوځي صاحب منصبانو ته په دې خاطرد بند سزا ورکړای شوه چې د دېرش تنو مړي یې سم نه وو پېژندلي او د دې په ځای چې هغوی خپلو کورنیو ته وسپاري نورو ته یې ورسپارلي ول .

د اګست په پنځه ویشتمه یوه افغان موټرچلوونکي دوه هسپانوي پولیس او د هغوی ایراني ترجمان په بادغیس کې د هسپانیایي پوځیانو په کمپ کې د ترینګ په مهال وویشتل.په خپله حمله کوونکی د نورو هسپانیایي ځواکونو په ډزو ووژل شو.دې پېښې د هسپانیا په رسنیو کې پراخ انعکاس وموند.

تېره میاشت (نومبر۱۹) د هسپانیا الپاییس ورځپاڼې راپور ورکړی وو چې دا هیواد غواړي له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي.

ورځپاڼې د ناټو د څینو مشرانو له قوله لیکلي، ناټو له هسپانیا څخه غوښتي چې په ۲۰۱۲م کال کې د بادغیس امنیتي مسوولیت افغان ځواکونو ته وسپاري.

د هسپانیا پر صدراعظم د مخالفانو له لوري فشار دی چې خپل پوځیان ژر تر ژره له افغانستانه وباسي.

روسیه له ناټو څخه نه یوازې د هوایي ترانزیت په خاطر پیسې اخلي بلکې د ځمکني ترانزیت په خاطر هم ډېرې پیسې ترلاسه کوي.

د رواني دسمبر په لسمه نېټه د روسیې د بهرنیوچارو مرستیال وزیر الکساندر ګروشکو وویل ، روسیه د هغو غیرتجارتي مالونو لپاره ، چې د دغه هیواد د اورګاډو په وسیله افغانستان ته وړل کېږي، هم له ناټو څخه حق العبور اخلي.د ده په وینا ناټو د یوه کانټینر پر سر روسیې ته اتلس سوه ډالره ورکوي.

خلاصهء از رویدادهای سال ...

سال ۲۰۱۰ در سطح همکاری های پاکستان با ایالات متحده علیه گروه های تندرو در افغانستان پیشرفت ملموس به میان نیامده و حتی این همکاری ها تا اندازه کاهش یافته است.

روزنامه نیویارک تایمز می نویسد، افغانستان شاهد تکمیل شدن افزایش قوای امریکایی و ناتو بود که عمده ترین نقطه ستراتیژی باراک اوباما رییس جمهور ایالات متحده در ماه دسمبر ۲۰۰۹ را تشکیل می داد. رقم قوای امنیتی افغان و کیفیت این قوا رو به رشد است و ناتو نیز برنامه اش را روشن ساخته که تا سال ۲۰۱۴ با آنها به شراکت ادامه می دهد. به نوشته روزنامه زمانیکه ادعاهای بی شمار تقلب در انتخابات ولسی جرگه صورت گرفت این افغانها بودند که افغان های خود را حسابده قرار دادند که این روند نشاندهنده برخی از جنبه های شکننده سیستم دیموکراسی فعال در این کشور است.

روزنامه می نویسد، کابل و حومه آن که تحت کنترل قوای اردو و پولیس افغانستان قرار دارد از امنیت نسبی برخوردار است. اما گرایش خشونت ها این را نشان داده که شورشیان می توانند به حملات شان ادامه دهند.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

واشنګټن پوسټ او وال سټریټ ژورنال نړیوالو ورځپاڼو د افغانستان په اړه بېلابېل مطالب او خپرونې خپرې کړې چې لنډیز یې د شهادت اوونیزې درنو لوستونکو ته وړاندې کیږي.

وال ستریت ژورنال:

وال ستریت ژورنال ورځپاڼې په خپلې وروستۍ ګڼه کې د افغانستان په اړه په یوه مطلب کې د دې هېواد یو شمېر برخو ته د ناټو او امریکایي ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال ډیوید پتریوس وروستی سفر څېړلی او لیکي، پتریوس د شنبې په ورځ د کرسمس د جشن په مناسبت په یو شمېر هغو سیمو کې له ایتلافي ځواکونو څخه لیدنه وکړه، چې د جبهې په لومړۍ کرښه کې پراته دي ترڅو د طالبانو پر ضد روانه جګړه کې چې لسم کال ته داخله شوې، د هغوي د هلوځلو ستاینه وکړي.

ورځپاڼه لیکي، پتریوس خپل دا سفر له کابله پیل او د افغانستان شمالي ولایت کندز ته لاړ. هغه په کندز کې د امریکا د لسمې غرنۍ فرقې ځواکونو ته په وینا کې وویل، نن ورځ چې دی دلته راغلی دا په دی خاطر ده چې دا سیمه زموږ د هڅو په مرکز کې ده.

د وال ستریت ژورنال په وینا د افغانستان د شمالي ولایتونو امنیتي وضعیت په وروستیو کې خراب شوی، وسله والو طالبانو په جنوب کې د فعالیتونو ترڅنګ په دی سیمه کې هم د ناټو پرځواکونو حملو ته زور ورکړی دی.

د افغانستان په ختیځ کې چیرې چې د ناټو ځواکونو له پاکستانه د وسله والو ډلو د اوښتو د مخنیوې پرهڅو ډېر تمرکز کړی، د امریکایي ځواکونو یوه جزوتام لکه په هرو دو ورځو کې چې یو ځل له وسله والو مخالفانو سره په جګړه کې ښکیل کیږي، د کرسمس ورځ هم له وسله والو طالبانو سره په نښته کې تیره کړه.

د وال ستریت ژورنال ورځپاڼی په وینا جنرال ډیوید پتریوس د شنبې په ورځ د سفر په ترڅ کې د افغانستان جنوبي ولایت هلمند ته چې د مارجې ولسوالی یې په وروستیو کې د وسله والو طالبانو پرضد د ترېوالو ځواکونو د پراخو

عملیاتو شاهده وه هم لاړ.

هغه په مارجه کې د امنیت په ټېنګښت کې د امریکایي پلي سمندري ځواکونو د هڅو او میړانې ستاینه وکړه ویې ویل، چې تاسو نه یواځې میړانه ښودلې بلکه په دغسې یوې حساسه سیمه کې چې تقریبا هره ورځ نښتې کیږي، خپل پوځي مهارتونه هم نندارې ته ایښي دي.

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په کندهار کې په پوځي روغتون کې د ملکي افغانانو د درملنې په اړه یوه لیکنه خپره کړې او د پیل په کرښو کې لیکي، د کندهار په هوایي اډه کې دغه روغتون چې تقریبا هره ورځ د جنګ جګړو شاهد او له خطرونو او تجربو سره لاس او ګرېوان ده، پرسونل یې هڅه کوي چې د هغو ټپیانو ژوند وژغوري چې که د نړۍ هر ګوټ ته انتقال شي د مړینې خطر به یې زیات وي.

واشنګټن پوسټ لیکي، دغه روغتون چې په تیری مې میاشت کې پرانیستل شوی او چارې یې ناټو سمبالوي، د عاجلو پېښو او د درملنې دواړه خدمات ترسره کوي.

د ورځپاڼې په وینا په دغه روغتون کې چې شاوخوا یې د څلوېښت میلیون ډالرو په ارزښت دیوالونو احاطه کړې، د لندې او اوږدې مودې ټپیانو او ناروغانو درملنه کیږي.

ورځپاڼه لیکي، هغه امریکایي سرتیرې چې په جګړه کې سخت ټپي او بې سده کیږي، دی روغتون ته انتقالیږي، یوه یا دوه ورځې په دې روغتون کې تیروي او وروسته د بګرام هوایي اډې ته انتقالیږي چې وروسته د نورې درملنې لپاره جرمني ته انتقالیږي، خو د ورځپاڼې په وینا د دې روغتون په بله ځانګه کې چې د افغانانو لپاره ځانګړې شوې، کله چې یو ټپي راوړل کیږي، درملنه یې زیاتره وختونه یوه اونۍ وخت نیسي او وروسته په داسې حال کې چې روغتیایي وضعیت یې ښه شوی نه وي له روغتون څخه نه رخصتیږي.

باوجود افزایش کمک های ایالات متحده امریکا برای پاکستان مخفیگاه های تندروان در آن کشور به حیث عمده ترین مشکل باقی مانده است. نیویارک تایمز می نویسد، فساد به حیث بیماری همه گیر در حکومت کابل پا بر جاست و در مجموع مسیر اصلی جنگ در افغانستان روشن نیست.

سال ۲۰۱۱ برای افغانستان سالی ...

از نیروهاي فرانسوي و بین المللي در این ناحیه مستقر هستند.

رباینده‌گان این دو خبرنگار علاوه بر درخواست باج، آزادي زندانیان سیاسي طالبان را نیز به عنوان یکي از شروط خود براي آزادي این گروگان‌ها مطرح کرده‌اند و این در حالیست که دولت کابل و واشنگتن با آزادي این زندانیان مخالفند.

وزیر دفاع فرانسه در ادامه در دیدار با نظامیان فرانسوي مستقر در افغانستان در روز کریسمس اعلام کرد: "روز کریسمس روز ویژه‌اي است و من مي‌خواهم بگویم که ما به شما اعتماد داریم. وظیفه وزارت دفاع این است که شرایطي را که تحت آن نظامیان فرانسوي در حال مأموریت هستند، به دقت زیر نظر داشته باشد."

وي افزود: "سال ۲۰۱۱ براي افغانستان سالي سرنوشت‌ساز خواهد بود و طبق جدول زماني تعیین شده، خروج نیروهاي فرانسوي از افغانستان و سپردن مسئولیت به افغان‌ها از سال ۲۰۱۱ به تدریج آغاز خواهد شد و تا سال ۲۰۱۴ پایان خواهد یافت."

فرانسه به عنوان چهارمین مشارکت کننده و تأمین کننده نیروي نظامي در جنگ افغانستان در حال حاضر سه هزار و ۵۰۰ نظامي خود را در افغانستان مستقر کرده است و از سال ۲۰۰۱ یعني از ابتداي حضور آنها در این کشور تاکنون ۵۲ نظامي فرانسوي در جریان حملات و عملیات‌هاي مختلف جان خود را از دست داده‌اند.

سال آینده مخالفان مسلح دولت ...

زمینه برای آغاز بهتر روند انتقال مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان است.

وی در ادامه گفت:

"ما نیاز داریم تا فشار بالای طالبان را در سراسر کشور به خصوص در ولایت های قندهار، هلمند، کندز و سایرمناطق همچنان ادامه دهیم.

نخست می خواهیم تا این مناطق را از طالبان پاکسازی کنیم، تاکید دوم بالای حفظ و نگهداشت آن است و بالاخره استقرار نهاد های دولتی و راه اندازی پروژه های انکشافی در مناطق پاکسازی شده در نظر گرفته می شود.

و در نهایت تلاش صورت می گیرد تا زمینهء بهتر برای آغاز موفقانهء روند انتقال در سال ۲۰۱۱ صورت گیرد."

در نشست سران کشورهای عضو ناتو که چندی قبل در لیزبن پایتخت پرتگال راه اندازی گردید، فصیله شد تا روند انتقال مسوولیت های امنیتی از نیروهای بین المللی به نیروهای افغان از جولای سال ۲۰۱۱ آغاز و تا سال ۲۰۱۴ به پایان برسد.

از سوی دیگر سخنگوی نیروهای آیساف در افغانستان می گوید که ظرف سه ماه گذشته نزدیک به ۱۸۰۰ عملیات را علیه مخالفان مسلح در سراسر این کشور راه اندازی کردند که در نتیجهء آن در حدود ۱۳۰۰ تن از رهبران و افراد پایین رتبهء آنان کشته ویا بازداشت شده اند.

در عین حال آقای بلانز نقش پاکستان را در موفقیت بیشتر عملیات های نظامی در افغانستان برجسته خوانده و بر هماهنگی دولت های افغانستان، پاکستان و نیروهای آیساف در این خصوص تاکید می کند.

وی افزود:

"ما به گونهء واضیح شاهد راه اندازی عملیات های هماهنگ و فعالیت های بیشتر خواهیم بود.

راه اندازی نشست سه جانبه که چند روز قبل برگزار شد نمونهء از این همکاری ها است.

ما انتظار داریم که در سال ۲۰۱۱ نیز شاهد راه اندازي عملیات های هماهنگ و فعالیت های مثمر آیساف، پاکستان و نیروهاي امنیتی افغان باشیم."

نیروهای آیساف در حالی از راه اندازی عملیات ها و وارد گردن فشار بیشتر بر مخالفان مسلح دولت افغانستان سخن می زنند که گفته می شود با وجود رسیدن فصل سرما، مخالفان مسلح هم تحرکات شان را افزایش داده اند.

به اساس معلومات وزارت داخلهء افغانستان، در جریان یک هفتهء گذشته درحدود ۹۰ حملهء تروریستی به شمول پنج حملهء انتحاری در بخش های مختلف این کشور صورت گرفته است.

د م.م. پټې نقشې د افغانستان ...

حالاتو خرابېدا تایید کړه ، ویې ویل چې له کومې پټې نقشې نه دی خبر .ده وویل ، په یوشمېر سیمو کې د امنیتي وضعیت د خرابېدو له کبله د ملګرو ملتو هلې ځلې له ستونزو سره مخامخ شوي دي.

ده وویل په افغانستان کې داسې سیمې شته چې امنیتي حالات یې مخ په خرابېدو دي او په دغو سیمو کې د بشري مرستو رسول او د حکومتي خدماتو وړاندې کول له ستونزو سره مخامخ شوي دي.

ده همداراز وویل چې په ۲۰۱۰ کال کې د امنیتي وضعیت د خرابېدو له امله په هغو ولسوالیو کې چې تر دې مخکې د دولت وسله وال مخالفان نه ول ، اوس هغوی مخ په زیاتېدو دي.

وال ستریت د ملګرو ملتو د نقشو له مخې ویلي چې د افغانستان د شمال او ختیځ په شپاړسو ولسوالیو کې امنیتي حالات خراب شوي دي.

د راپور له مخې دا ولسوالی په بلخ، سرپل، بادغیس، پروان، بغلان، سمنګان، فاریاب او تخار ولایتونو پورې مربوطې دي.

وال ستریت ژورنال دا هم لیکلي چې د اکتوبر د میاشتې د راپورونو له مخې په شمال کې د کندوز او په لوېدیځ کې د هرات دوې ولسوالی چې مخکې زیاتې خطرناکې ګڼل کېدې، اوس له امنیتي نظره تر پخوا ښه شوي دي.

د رواني میاشتې په پیل کې د امریکا په بیا کتل شوې ستراتیژۍ کې ویل شوي وو چې په یو شمېر سیمو کې امنیتي وضعیت بهتره شوی خو که ساتنه یې ونه شي ، کېدای شي د دغو سیمو امنیتي حالات بیا خراب شي.